RESET
Training and Support

# د تجربې په وسیله متخصصین: د مجرد والدینو په توګه بیا مېشتېدل

له رانا سره زموږ مرکه ولولئ، هغه له سوریې څخه د وتلو د سختیو په اړه په خپله خوښه خبرې کوي او دغه سفر ته د یوې مجردې مور په توګه له خپلو دوه تنو لونو سره دوام ورکوي.

دا د یوې کورنۍ لپاره ستونزمن ده چې لومړی له خپل اصلي هېواد څخه کوربه هېواد ته او بیا د بیا مېشتوني له لارې بل هېواد ته راشي - او د مجردو والدینو لپاره دا چاره نور هم ستونزمنه وي. دا بیا ځلې ډاډ موجود دی چې په دغه ډول سخت حالت کې خپل ملګرې ته ور ستانه شئ او دا خورا سختې پوښتنې ورسره مطرح کړئ: 'ایا موږ باید لاړ شو؟'، موږ ته به څه را پېښ شي؟، موږ باید ماشومانو ته څه ووایو؟ – دا د مجردو والدینو لپاره هلته نه دی. دا هغه سفر دی چې رانا بشپړ کړی و، مخکې له دې چې د سوېل لېورپول د کلیساوو د ټولنې د ملاتړ ګروپ له لوري په 2019 کال کې ورته هرکلی وویل شي.

رانا هیله ده له موږ سره کېنئ تر څو په دې اړه خبرې وکړو چې د ټولنې د ملاتړ ګروپ له لوري څنګه ښه د تېرو دوه کلونو لپاره راغلاست درته ویل شوی دی، د مجردې مور په توګه د دوه کوچنیو لونو لویولو ژوند څه ډول و، او اوس چې هغه په برېتانیا کې مېشته شوې ده، د خپلې کورنۍ لپاره کومې هیلې لري.

## هغه کوم شرایط وو چې تاسو یې خپل اصلي هېواد سوریه پرېښوده؟

موږ څکه له هېواده را ووتلو چې هرته جنګ و. کله چې زما د ماشومانو په ښوونځي کې چاوده وشوه او د هغې دوه ملګرې ووژل شوې، دې پېښې زه وهڅولم څکه مې خپلې لونې له ښوونځي څخه را و اېستلې او سوریه مو پرېښودله. موږ د عراق ویزه واخیستله او په الوتکه کې مو هلته پرواز وکړ.

## په عراق کې ژوند څنګه و، په ځانګړې توګه د یوې مجردې مور په توګه؟

دا د ژوند په ټولو اړخونو کې خورا ستونزمنه وه. لومړی، د یوې مجردې مور په توګه د دوه تنو لونو لویول پخپله یو ستر مسوولیت دی. دویم، کله چې موږ د عراق د کردستان ساحې ته لاړو، د هغه ځای ژبه بدله وه. زموږ ژبه زده نه وه او نه پوهیدو چې له خلکو سره څنګه اړیکې ټینګې کړو. دربیمه ستونزه د مالي ملاتړ په برخه کې وه، څنګه د خپلې کورنۍ لپاره کافي پیسې وګټم، په ځانګړې توګه دا چې زه لومړنی مسوول شخص یم او دا زما پرېکړه وه چې خپلې لونې عراق ته بوځم.

د دې لپاره چې پیسې وګټم، ما به په عراق کې خواړه پخول او په نورو کورنیو به مې پلورل او په جومات کې به مې قرآن کریم هم خلکو ته ور زده کاوه. کله مې چې خواړه پخول ما به دواړه هم عراقي او هم سوریایي خواړه پخول. خلکو به را ته ویل چې خواړه دې ډېر خوندور دي او ویل به یې چې زما له خوړو څخه خوندور خواړه یې کله هم نه دي خوړلي! هغوی به زما خواړه خوښول او پیرل به یې او دا هغه څه وو چې له ما سره یې مرسته کوله تر څو په عراق کې وپایم.

زما مشرې لور باید ښوونځي پرېښی و، څکه چې وس مو یې نه درلود. ما هېڅ نشوای کولای څکه همدومره پیسې به مې ګټلې چې د خوړو او کرایې لپاره یې وکاروو او بس. ما له دې ور هاخوا نور څه نشوای کولای. د خپل هېواد پرېښودل را ته ډېر خواشیني کوونکي وو، مګر دا چې نه مې شوای کولای په خپلې لور زده کړې وکړم دې کار به نور هم خپه کولم. کله به مې چې لور نور زده کوونکي لیدل چې ښوونځي ته ځي، هغې به ژړل او را ته ویل به یې چې د ښوونځي توکي ورته راوړم لکه د کتابونو بکس تر څو هغه هم ښوونځي ته لاړه شي. کله چې موږ له سوریې څخه را ووتلو، زه نه پوهېدم چې موږ چېرته ځو یا موږ ته به څه را پېښېږي. مګر هغه وخت مې له ځان سره دا فکر وکړ چې ښه به وي چې خپلې پیسې او کور له لاسه ورکړم، نه خپلې لونې.

RESET
Training and Support

## د سوريې پرېښودو زموږ پر لونو څه اغېز وکړ؟

له سوريې څخه وتلو زما پر لونو ډېر منفي اغېز وکړ ځکه چې ما وس نه درلود تر څو دوی ته یو ښه ژوند برابر کړم. موږ په خورا ټيټه کچه کې ژوند کاوه. په عراق کې زموږ کور يوازې لومړني توکي درلودل او ما نشواى کولاى چې هغوی ته نور څه ورکړم. همدارنګه موږ داسې احساس کاوه چې هلته په کردي ټولنه کې موږ نابللي مېلمانه يو. موږ به هڅه کوله چې له خپلو ګاونډيانو سره دوستانه اړيکې ولرو، خو هغوی به ورته ځواب نه را کاوه. هغوی به حتی خپل ماشومان نه پرېښودل چې زما له ماشومانو سره لوبې وکړي.

کله چې زه د هغه وختونو په اړه فکر کوم، خورا سخت وختونه وو. مګر دا هغه څه وو چې دلته زما د راتګ لامل شو. او دټولنې د ملاتړ ګروپ له ما سره په بېلا بېلو لارو مرسته کړې ده، لکه روغتيا، زده کړه او د خوړو د پېرلو لپاره مرستې. او دا هغه څه وو چې زه يې حيرانه کړم، ځکه چې دا په عراق کې زما له وضعيت سره کاملاً سرچپه وو؛ هلته به حتی خلک موږ ته نږدې نه راتلل، مګر دلته به ګروپ له موږ سره په هره برخه کې مرسته کوله.

## کله چې تاسو ته په لومړي ځل **UNHCR** وويل چې تاسو به په برېتانيا کې با مېشت شئ، نو څه احساس مو کاوه؟

کله چې ما ته هغه سړي په ټيليفون وويل چې برېتانيا ته د تللو لپاره تاسو منل شوي ياست، نو زما په مخ اوښکې جاري شوې. زه په ځمکه را پرېوتم او هغه سړي ته مې وويل: ’تاسو څه وويل، هيله کوم تکرار يې کړئ، همدا اوس چې تاسو څه وويل هيله کوم، هيله کوم هغه تکرار کړئ‘.

ما تل داسې احساس کاوه چې په يوه نه يوه لار به له موږ سره مرسته کېږي. ما داسې احساس کاوه چې خدای به موږ يوازې نه پرېږدي، هغه به زموږ مرستې ته يو څوک را واستوي. او ما نشواى کولاى د خپلو لونو لپاره تسليم شم، ما احساس کاوه چې بايد د هغوی لپاره خپلې مبارزې ته دوام ورکړم.

زه برېتانيا ته د راتګ له فکر څخه عصباني نه وم. زه فارغه شوې يم، ما په سوريه کې معلوماتي ټکنالوژي او سوداګري لوستلې ده. او څه چې ما د برېتانيا په اړه اوريدلي وو، هغه دا دي چې دا د نړۍ يو له غوره هېوادونو څخه دی، دا داسې يو هېواد دی چې خلک يې غواړي خپل ماشومان واستوي تر څو غوره زده کړې وکړي. نو کله چې ما واورېدل چې موږ برېتانيا ته ځو، زما ذهن ته دا خبره راغله چې موږ د نړۍ يوه غوره هېواد ته ځو. او زه حيرانه وم چې د برېتانيا په څېر يو هېواد به ما او زما لونې قبلوي.

## ستاسو د کورنۍ لپاره تېر دوه کلونه په برېتانيا کې څنګه وو؟

دا زما د ژوند دوه تر ټولو غوره کلونه وو. دا د يو پيل په څېر ده، داسې ښکاري لکه زما ژوند چې له سره پيل شوی وي. داسې احساس کېده چې هر څه دلته د راتګ پيلامه شو او دا چې موږ د برېتانيا او د دې ټولنې يوه برخه شوو. دلته خلکو له ما سره د يوه انسان په څېر چلند وکړ. څرنګه چې ما وويل په عراق کې حتی زما سلام ته ځواب نه را کاوه. مګر دلته هر څوک له ما سره د انسان په څېر چلند کوي.

دلته د مېشت کېدو په برخه کې يواځنۍ ستونزه زموږ د ژبې وه. دا يواځنۍ شی و چې زما لپاره ستونزه وه. نور هر څه داسې احساسېدل چې د مديريت کېدو وړ دي او د ټولنې د ملاتړ د ګروپ له برکته وو. د ګروپ غړيو به له ما سره په بېلا بېلو برخو کې مرسته کوله. چا به مرسته را سره کوله چې روغتيايي ليدنې تنظيم کړو او نورو به را سره مرسته کوله تر څو خپلې ګټې او نور شيان تنظيم کړو. داسې احساسېده چې موږ ټول يوه لويه کورنۍ وو، د ګروپ ټولو غړيو به ما ته ښودل چې څنګه دا هر څه ګام په ګام ترسره کړم.

حتی کله چې ما برېتانيا ته سفر کاوه، ما فکر کاوه چې بايد نجونو ته جامې وپيرم. مګر کله چې زه دلته کور ته را ورسېدم، الماریۍ له هر څه ډکې وې. بوټان او جامې، هر څه چمتو وو او زموږ انتظار يې کاوه. او کله چې ښوونځی پيل شو، ګروپ موږ له ځان سره بوتلو تر څو نجونو ته يونيفورم وپيرو. له ژبې پرته نور هېڅ شی ستونزمن نه وو، او دا د ګروپ د ملاتړ له برکته وو.

گروپ یوائې د لومړنیو توکو مرسته له موږ سره نه کوله، بلکې موږ به یې کلاوو، رستورانتونو او ویلز ته وړلو. دا داسې نه ښکارېده چې هغوی دې دا کار د دې له امله وکړي چې دا یې دنده یا مسوولیت دی، بلکې داسې ښکارېده لکه موږ ټول چې یوه کورنۍ او ملګري یو او بهر ځو. او په دې سره زه ډېره خوښه وم، ما ته یې داسې احساس را کاوه چې دا اوس زما ژوند دی.

او حتی زموږ ګاونډیانو به له موږ سره ډېره مینه کوله او ډالۍ به یې را کولې. که به زموږ ګاونډي درې یا څلور ورځې و نه لیدلم، زنګ به یې را ته واهه او پوښتنه به یې کوله چې زه ښه یم.

## د راتلونکي لپاره تاسو څه هیلې لرئ؟

هغه څه چې زه غواړم ترسره یې کړم دا دي چې وکولای شئ د نرسینګ په برخه کې زده کړې وکړم او یوه نرسه شم. زه غواړم چې په لیورپول کې یو کوچنی کلینیک پرانیزم او له خپلو دواړو لونو سره هلته کار وکړم. د لیورپول خلک ډېر مهربانه دي او زه غواړم چې په یوه نه یوه لاره بېرته هغوی ته ور ستنه شم.

## ستاسو لپاره د ټولنې د ملاتړ ګروپ څه معنا لري؟

زما لپاره دا د یوه نوي ژوند د پیل او غوره راتلونکي په معنا دی. ګروپ د دې لامل شو چې موږ بیا احساس وکړم چې انسانان یو او موږ ته یې داسې احساس راکړی دی چې هر څه وغواړو ترلاسه کولای یې شو. هغوی موږ ته داسې احساس راکړ لکه زموږ کورنۍ. هغوی هېڅکله له موږ سره د پردیو په څېر چلند نه دی کړی نه یې ډېر رسمي چلند را سره کړی دی، بلکې د کورنۍ په څېر چلند یې را سره کړی دی.

هغه کورنۍ چې برېتانیا راځي، زه ورته وایم چې د دې ځای خلک ډېر ښه او مهربانه دي. هغه ګروپ چې زموږ هرکلی یې وکړ، ډېر مرسته کوونکی او هڅوونکی دی. ګروپ تر هغې ما ته ډېر څه راکړل چې ما یې تمه لرله! او هغه کورنۍ چې دلته راځي، هغوی ته زما مشوره دا ده چې د ژبې پر زده کړه ډېر تمرکز وکړي، ځکه که چېرته تاسو پر ژبه تسلط ولرئ، نو دلته هر هغه څه ترلاسه کولای شئ چې غواړئ یې.

ګورپ زموږ لپاره لویه کورنۍ ده، هغوی داسې دي لکه د خدای له لوري چې موږ ته ډالۍ وي. هر څوک چې برېتانیا ته راځي، هیله لرم چې دغه ډول کورنۍ ومومي.

*له رانا څخه مننه چې خپله کیسه یې له موږ سره شریک کړه!*